عبدالرحمن فرقاني

۷ جنوری،۲۰۱۰

# د لندن کنفرانس او د ناټو ستونزې

معمولاً د نړیوا ل سیاست په ډګر کې دهرسیاسي کنفرانس په پای کې د ملتونو د تیرایستلو لپاره داسې اعلان کیږي، چې ګوا کې کنفرانس دیر بریالی ؤ، څرنګه چې لږ موده وړاندې په بروکسل کې د ناټو دپیمان د غړوهیوادنود بهرنیو چارو وزیرانو، چې د افغانستان اړوند د اوباما د نوې استراتیژۍ په هکله یې خبري اوپریکړې کولې، دخپل کنفرانس د بریالیتوب اعلان وکړ، اوخپل کنفرانس یی یو بریالی کنفرانس وګانه.

خو د یوه کنفرانس بریٔ د هغو پریکړو د نافذیدو څخه په ګوته کېدی شي، کومې چې په هغه کنفرانس کې د غړیوتر منځ شوې وي ، اوپه عملي ډګر کې د نافذیدو وړ وي، او غړي هیوادونه یې په تنفیذ سره متفق وي. په بروکسل کې د ناټو دپیمان له کنفرانس نه وړاندې د ناټو مشر راسموسن اعلان وکړ، چې دوی به افغانستان ته پرته له امریکایي جنګیالیو څخه ۵۰۰۰ نور جنګیالي د ناټو له غړو هیوادونو څخه ولیږي. سره له دې چې نوي مشرتابه زیار درلود، تر څو داسي وړاندیز ونه کړي، چې د هغه عملي بڼه ناشونې وي، تر څو د کنفرانس پایله چې باید بریالۍ وستایل شي متضرره نشي.

خو کوم مهال چې کنفرانس پیل شو، نو د ناټو د مشر په ژبه له وړاندې یاده شوې شمیره لوړه شوه او د لسو زرو نویو جنګیالیو غوښتنه یې وکړله، ترڅو له نوې جنګي استراتیژۍ څخه حمایت وکړۍ شي، خو د کنفرانس په پاي کې یوازې د مجردو وعدو نه پرته نور څه ترلاسه نشول او فرانسی خو په رسمي توګه اعلان وکړ، چې د اضافي عسکرو لیږلو ته چمتو نده او آلمان بیا دا پریکړه په لندن کې د افغانستان په هکله د نړیوال کنفرانس تر دائریدو پورې وځنډوله. د کنفرانس په پایله کې د رسمي شمیرو په هکله واضحه څرګندونه ونشوه او نه هم دا مقایسه وڅیړل شوه، چې له غړو هیوادونو څخه ځني د خپلو جنګیالیو وتل په کال ۲۰۱۰ م کې په نظر کې لري لکه کاناډا او استرالیا.

نو د ناټو د غړیو هیوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو په کنفرانس کې یوازې وعدې، او یوه وړه شمیره د هغو شمیرو په پرتله، چې په افغانستان کې د خطرناك حالت نه دوتلو لپاره یی وړاندیز شوی، تر لاسه شوه، خوبیا هم دا کنفرانس په میډیا کې د یوه بریالي کنفرانس په څیر وپیژندل شو.

اوس که په نړیواله کچه د ناټو دغړیو هیوادونو سیاسي تګلاره او راکړه ورکړه وڅیړل شي، نو داسې ښکاري، چې د ناټو د پیمان هیوادونه د افغانستان د وضعیت په هکله په یوه واحده استراتیژۍ د راټولیدلو اړوند ستونزې لري، که څه هم له اساسه د افغانستان په جګړه کې د ناټو هیوادونو د خپل دستورنه سرغړونه کړې ده، خو د خپل بیاوړي ملګري (امریکا) د رضا لپاره یی په جګړه کې برخه اخیسته ده، او کېدی شي چې، ګڼ شمیر د ناټو د پیمان هیوادونه په خپل راتګ افغانستان ته پښیمانه وي، که امریکا د خپل غچ اخیستو لپاره افغانستان ته راغلې ده، که بریتانیا د خپلې شرمیدلې ماتې غچ په سر کې پالي او د امریکا ملګرې شوې ده، خو د اورپا ګڼ شمیر هیوادونه د افغانستان له کشالې سره هیڅ تړاو نلري او نه غواړي چې ویې لري، ځکه دا هیوادونه هغه تور تاریخ نشي هیرولي چې د کمونزم د وحشت اوبربریت په چاپیریال کې یې تیرکړۍ دی، که امریکا ته د اطلس اوقیانوس د یو پیاوړي سپر په څیر پراته دي، نو دا هیوادونه خو د روسیې اوچین چې په ټول قوت سره په نړیوال ډګر کې راولاړ شوي، له جغرافیایی لحاظه شریکه پوله لري، نو کېدي شي له دې ځایه فکر کوي، چې له خپلو ګاونډیانو سره خپلې اړیکې د امریکا په حساب ډیرې ستونزمنې نکړي او یوډول تعادل او توازن وساتي، او نه غواړي چې د امریکا اوبریتانیې په استعماري کړۍ کې دخپل ګاونډیو هیوادونو سره دښمنۍ ته ادامه ورکړي، چېرته چې دوی په دې دښمنۍ کې کومه ځانګړې لاسته راوړنه نهویني، او د خپل ویجاړ او کمزوري اقتصاد د پیاوړتیا په فکر که دي، د مثال په توګه د آلمان اقتصادي اتحاد د روسیې سره د پام وړتکی دی.

دا هم متصوره ده، چې دا هیوادونه هغه پایله د افغانستان د سیاسي کشالې په هنداره کې ګوري، کومه چې د بریتانیې امپراتورۍ د ځواکونو یوه ژوندي پاته شوي جنګیالي د بریتانیې حکومت ته انځور کړله، او کومه پایله چې د روسیې د پوځونو مشر ګروموف یې په هکله د افغانستان څخه د وتلو په مهال داسې وایي: "پدي تورو غرونو کې موږ له خپل تاریخ سره سره خپله جغرافیه هم له لاسه ورکړله" او د لودیځ د سیاسي مبصرینو په نظرد افغانستان د سیاسي کشالې پایله د تیرو شویو یرغلګرو ځواکونو په څیر بریښي، نو کېدی شي، چې دا هیوادونه په افغانستان کې د امریکا پایله هم دا ډول ګوري.

د افغانستان د سیاسي، نظامي، اقتصادي اوتولنیز ثبات لپاره د لندن په کنفرانس کې که ډیر څه پلان شوي دي، اوغړي هیوادونه به په هغو مهمو مسایلو خبرې وکړي، چې د افغانستان په ستونزمن سیاسي حالت کې ژور اثر لري. په افغانستان کې د یرغلګرو هیوادونو نظامي ونډه به، چې اکثریت یی د ناټو د نظامي پیمان غړي دي، د لندن د محوري او



افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړۍ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولۍ

بنيادي پريکړو څخه وي، همدا راز د افغانستان اقتصادي پرمختګ او بيا رغونه به هم تر څېړنې لاندې ونيول شي، خو دا ټولې هغه ستونزې دي، چې له نظري اړخه به د لندن په کنفرانس کې وڅېړل شي، خو په عملي ډګر کې ډېر کتونکي په دې کنفرانس پورې هم هيلې نشي تړلی، څرنګه چې له دې وړاندې تيرشوي کنفرانسونه پاتې راغلل، دير کتونکي پدې باور دي، چې د ناټو ګڼ شمير هيوادونه د افغانستان د ګرداب څخه د وتلو لاره لټوي، او نه غواړي، چې نور د امريکا د جنګي استراتيژيو ښکار شي، نو دغه وضعيت ته په کتلو سره دا خبره کولای شو چې د افغانستان په هکله د لندن نړيوال کنفرانس به هم د نورو کنفرانسونو په څير د افغانستان د ملت د تير ايستلو لپاره يو کنفرانس وي، په ميديا کې به برياليي وستايل شي، خو په عملي ډګر کې به له ستونزو سره مخ وي، او کومه داسي د پام وړ پايله به د افغانستان د وضعيت د ښه والي لپاره تر لاسه نشي، ځکه چې د ناټو د پيمان د غړو هيوادونو تر منځ د افغانستان لپاره يوه واحده اومشترکه استراتيژي نشته.



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ